مصطفی پسرلی ۲۰۲۰/۱۱/۱۴

# غزل

چي په هوش دي د هغو حال مي لېدلی
د واکمنو لېونو حال مي لېدلی

لکه مړي د ژوندو په لاس او واک دي
د بې پته پښتنو حال مي لېدلی

د وحدت د بامه هسې تماشې کړې
رښا راوړه چې د شپو حال مي لېدلی

مېکدې ته به ورتلم چې زړه سکون کړم
د هر کوټ او د توبو حال مې لېدلی

نوم بدل، جامه بدله، جنګ روان دی
لکه مړي د ژوندو حال مې لېدلی

کشران کوې پيخي د مشرانو
پسرلېه د شملو حال مي لېدلی

مصطفی پسرلی
14/11/2020


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ